واحد فقتری هاري

واشنګټن، ۲۰۰۸/۱۱/۰۱م

# انټرنیټ، مطبوعات، او موږ

نن سبا، د انټرنیټ،سیلفون، فکس، سمدستي الکټرونیکي اړیکو او شبکو، نړیوال جال او تړاو، او لنډه دا چي د ګلوبلاېزېشن پیر او وخت دی. هر څه د ګلوبلاېزېشن په طلسم کي بند او راګېر دي. ټول جهان، هېوادونه، سیمي، او قومونه د ګلوبلاېزېشن په غښتلي، تک سپین، او نا مریي تار باندي داسي سره پېیلي سوي دي چي جلا کول یې تر ډېره حده ناممکن او زیانمن سوي دي. ګرده نړی ارتباط او اړیکي سره لري. تلوار او بېړه ډېره سوېده. د موټر، طیارې، ټیلفون، خبرونو، او معلوماتو سرعت ګړندی سوی دی. کار چټک او زیات سوی دی. ټول جهان په یوه واړه کلي بدل سوی دی. د مځکي تناوونه را لنډ سوي دي. تګ را تګ زیات سوی دی. د علم او ساینس بازار تود سوی دی. ساینس او تیکنالوژي د ثروت د جوړولو لپاره مهمي زېرمي ګرځېدلي دي. نور عصري علوم، ساینس، او تیکنالوژي یوازي د اروپایي نژادونو په انحصار کي ندي، بلکي د خاوریني کرې شاوخوا د علم او تیکنالوژۍ نوي او متبکر مرکزونه را غوټېدلي دي. چین، هند، او جنوب شرقي اسیا د جهاني تولیداتو او تیکنالوژۍ په مهمو مرکزونو بدل سوي دي. د جهاني اقتصاد په جال،کړۍ، او څرخ کي ټول عالم بند او اسیر دی. هر څوک د جهاني قیمتونو تر فشار لاندي دی. د نړیوال کلتور او ثقافت پل او اثر هر ښار، هر کلي، او هر ي ټولني ته رسېدلی دی. په بل عبارت، هر څه جهاني سوي دي. که چیري په امریکا کي اقتصاد خراب سي، د منفي او بدو څپو اثرات یې تر چین، هند، اروپا، جنوبي امریکا، افریقا، ایران، پاکستان، او حتی تر کابل او کندهار پوري هم رسېږي. د نیویارک د سټاک مارکېټ او پولي موسساتو نبض او څرخ د جهان پر ټولو پولي پالیسیو او نرخونو باندي اغېزه ښندي. اقتصاد، تجارت، تولیدات، کمونکېشن، کلتور، او حتی سلیقې، موډ او فېشن هم نړیوال رنګ او خوند اخیستی دی. هرڅه سټېنډرډ سوي دي. بسته بسته سوي دي. د ټولو نرخ معلوم دی. د دې نوي او حیرانونکي نړیوال جال او شبکو په سرکي انټرنیټ د برېښنا په منډه روان دی.

لدې لنډي مقدمې څخه را وروسته،موږ افغانان مجبوره یو چي لدې تیکنالوژۍ څخه د مطبوعاتو او علمي اسانتیاوو د برابرولو په برخه ډېره ګټه واخلو. پښتانه باید پدې برخه کي تر بل هر چا ډېر زیار وباسي. ځکه زموږ پاېښت، هستي، او ژوند له جدي خطرونو سره مخامخ دي. د دغه خبرداري د ملاتړ لپاره لاندي څو دلایل وړاندي کوم.

لمړی، پښتانه سیاسي واحد مرکز نلري. په بل عبارت، خپل حکومت نلري. د پښتنو په پراخو سیمو کي سیاسي اقتدار پردی، وېشلی، او نامعلوم دی. ټول متفرق او شندلي دي. په اکثرو سیمو کي، مطلقه انارشي حاکمه ده. ځیني سیمي د مذهبي مسلح ډلو تر ولکې لاندي دي. پر ځینو نورو ښارونو او سیمو باندي یې څو مختلف حکومتونه واکمن دي. د کابل حکومت بې پروا، بې غوره، او ناسکه دی. کندهار وران، هېر، او د یوې ناکامي او ګمراه مذهبي څپې په څرخ کي اسیر او خوږ دی. د کندهار په شاوخوا سیمو کي د پښتنو د یوې موجه سیاسي غوښتني لپاره د مبارزې، مخالفت، او تلاښ واګي او اختیار د پردو په لمسون د یو لړ ملایانو او طالبانو د غوړ او تک تور طلسم په جادو کي راګیر دی. همدا وجه ده چي دننه په افغانستان کي تر اوسه پوري نه حکومت مشروعیت تر لاسه کړی دی او نه هم طالبانو. زه یقین لرم چي د دغو ددو ډلو د ګډېدو ، اتحاد، او ایتلاف نسخه به هم ستونزه حل نه کاندي. بلخوا، پېښور مظلوم، ورک، او بې واکه دی. فرهنګ او ژبه یې لوټ او تالا ده. شاوخوا سیمي یې تل ناړامه، ناکراره، او محاصره دي.

دوهم، پښتانه مجبوره دي چي خپل غم پخپله وخوري. پر خپلو متو باندي تکیه وکړي. د بل چا لاسته کښې نه ني. خپلي ملا وي وتړي. او خپله ستونزه پخپله فیصله کاندي. د خپلي ژبې د ساتلو او تقویې لپاره له انټرنیټ څخه پراخ او هر اړخېز کار واخلي. په همدې وسیله خپله ژبه او کلتور ژوندي وساتي. خپلي ژبې ته له همدې لارې خدمت وکړي. زموږ لیکوالان، مبصرین، ژورنالیسټان باید لمړی خپلي لیکني د انټرنیټ له لارې خپرې کړې. په خارج کي، ټول افغانان انلاین دي. حتی په داخل کي هم اکثره ښاري او باسواده خلک انټرنیټ ته لاسرسی لري. ایمیل او اکاونټ لري. موږ افغانان کولای سو چي د انټرنیټ له لارې خپلمینځیني سالم بحثونه، ارزښتناکه فرهنګي کارونه، د یوې انلاین فرهنګي ټولني د جوړولو بندو بست، او د نورو کلتوري او ژورنالیسټي کارونو لپاره ګډ کار، خدمت، او



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

مبارزه وکوو. دا یو تاریخي ضرورت دی. د پښتو ژبي د پرمختګ او غښتلي کولو لپاره یوه جدي فرهنګي اړتیا ده. ځکه انټرنیټ ستاسي لیکني په بین المللي سویه او په عین زمان کي ټولو لوستونکو ته رسوي. د نړۍ په هر ګوټ کي ستاسو لیکني په خپله ژبه انلاین خپرېدای سي. تاسو کولای سئ چي خپل ږغ او نظر ټولو هېوادولو ته ورسوئ. لدې عصري او خارق العادق وسیلې څخه ګټه واخلئ.. ځکه ښکاره خبره ده چي له جهانه پټېداي نه سو. او د مځکي له کورې څخه وتلای نه سو.

درېیم، په پښتني جامعه کي، پراخه اقتصادي کمزورتیا سته. ډېري ناخوالي او تریخي خبري سته. ددغه شان یوې بې نظمه او مرکزه ولس لپاره یوازنۍ کم مصرفه او عملي لاره انټرنیټ دی. البته، څرګنده خبره ده چي اخبارونو، مجلو، کتابونو، او نور د کاغذ پر مخ خپاره سوي اسناد او مدارک خپل ځای او اهمیت لري، خو انټرنیټ یوه نوې ارزانه، با دوامه، او عملي لاره پیدا سوېده. حتی په امریکا کي، پریس او اخبارونه د یوه داسي نوي رقیب سره مخامخ دي چي هم کم مصرفه دی او هم یې ځوان نسل ګرګی دی. د نورو صنعتي او پرمختللو ملکونو په شان، د امریکا ټول مهم اخبارونه،مجلې، کمپنۍ، پوهنتونونه، او دولت او جامعه له انټرنیټ څخه په پراخه پیمانه استفاده کوي. همدا شان، د جهان په اکثرو ملکونو او قومونوکي د انټرنیټ استعمال او موثریت له ورایه څرګندی. لدې وسیلې څخه باید د خپل قوم او خپلي ژبي د غني کولو او رواجولو په منظور ګټه واخلو. کېدای سي د انټرنیټ له لاري د خپل وطن د پوهنتونونو، کتابتونو، ژورنالیزم، او نورو فرهنګي هلو ځلو سره د پام وړ خدمت وکړو. همدا اوس، موږ ددې مالي او اقتصادي توان او طاقت نلرو چي اخبار او نور نشرات تر هر چا او هر ځای پوري ورسو. د کاغذ، رنګ، چاپ، او پوستي لګښت یې زموږ په وسه ندی. نو لازمه ده چي د عامه پوهوي او خبرتیا لپاره له انټرنیټ څخه استفاده وکړو. له همدې لاري د یو بل سره اربطه ټینګه کو. ځکه موږ له یو لړ اوږدو او جدي پرابلمونو سره مخامخ یو. د ځانونو په سمبالولو کي لدې وسیلې څخه کار واخلو. انټرنیټ د خوار، غریب، او مستقل منور لپاره کورت او غوړي دي. د یوې نامنظمي او شندلي ټولني لپاره یو خدایي سوغات دی. د کم مصرفه انټرنیټ له برکته یو کوچیني او یوازي ږغ هم لیري ځایونو ته رسېدلای سي. هر څوک د نړۍ په هر ګوټ کي چي وي د انټرنیټ په برکت سره وصلېداي سي. یو د بل له حاله خبرېږي. پښتنو ته لازمه ده چي د خپلي ژبي، تاریخ، فرهنګي میراثونو د ساتلو په غرض له انټرنیټ څخه حد اعظم استفاده وکړي. د استاد خلیل الله هاشمیان یوه مقوله ده: "افغان کم خوان او مفت خوان است." ډېره پر ځای او ټېک خبره ده. ددې مزمني ناروغۍ د علاج لپاره انټرنیټ د ښار د عاقل طبیب په لاس جوړ سوي دارو دي. بله دا چي د سپېرې مفلسۍ او خطرناکي خونریزۍ دوا هم انټرینټ دی. د ځوان نسل ادرس هم انټرنیټ دی. هغوی یوازي په ډاټ کام خبري کوي. که چیري غواړو چي د ځوان نسل سره خبري وکړو، د هغوی سره ارتباط او څه پېژندګلوي ولرو باید د هغوی د ډاټ کام پته ولرو.

څلرم، انلاین لیکني باید لنډې او د امریکایانو په اصطلاح " ټو د پوینټ" وي. مانا ژر دي مطلب وایه! په انټرنیټ کي خلک چندان اوږدې لیکني تر پایه نه ګوري. د انلاین ژورنالیزم څخه نیولې بیا تر تبصرو ، بلاګونو، او مکاملو پوري هر څه باید لنډ او خلاصه وي. انلاین لوستونکي کم شی مګر ښه شی غواړي. اصلي او نوی مال غواړي.

په پای کي، په متحده ایالاتو کي د جمهوري ریاست په انتخاباتو کي له انټرنیټ څخه استفاده ډېره په زړه پوري ده. د ښاغلي باراک اوباما کامیابي پدې کي ده چي ځوانان یې د انټرنیټ له لاري منظم کړل، له انټرنیت څخه یې د یوې غښتلي او موثري انتخاباتي وسلې په توګه کار واخیست. اوباما له انټرنیټ څخه داسي استفاده وکړه چي ښایي تر اوسه پوري یوه سیاستوال هم نه وي کړې. هغه د انټرنیټ له لاري په میلونهاوو ډآلره راغونډ کړل. د ښاغلي اوباما لپاره انټرنیټ د تبلیغاتو د کولو او چاندو او بسپنو د راټولولو یوه نه تمامېدونکې او بډایه زېرمه ده. ښایي همدا د هغه د نهایي برې سره ډېره مرسته وکړي. جمهورریس بیل کلنټن هم له انټرنیټ څخه پراخه استفاده وکړه، خو اوباما همدا سیاسي صنعت کمال ته ورسوی. که چیري اوباما انتخابات وګټي، د هغه پدې کامیابۍ کي به امریکایي ځوانانو مهم او اساسي رول لوبولی وي. اکثره ځوانان په انټرنیټ موښتي دي. نوي او عصري ځوانان د انلاین په حجروکي سیاسي درس او څه زده کړي دي. دا نسل د کمپیوټر او انلاین په دنیا کي را ستر سوي دي. که څه هم، په متحده ایالاتو کي عموما د رپبلیکن ګوند د نوي تیکنالوژۍ په استعمال او کارولو کي لمړی ګام اخلي، خو پدې انتخاباتو کي اوباما د انلاین دنیا کاملا ګټلې ده. جالبه دا ده چي جان مک کېن تر ډېره وخت پوري ایمیل نه لاره. د انټرنیټ سره نا اشنا دی. مک کېن د یوې بلي پېړۍ سړی دی، او ښایي همدا د هغه لویه کمزوري وي. والسلام.

پایان



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de